# د خلقو مبارز

# د امن د يقين سرچينه

خان زمان کاکړ

په پښتنو کښې د باچا خان ظهور ګويا د پښتنو د تاريخ د هېئت، ماهيت او نوعيت د بدلېدلو پړاؤ دے. د پښتنو په قومي انفراسټرکچر او ټولنيز جوړښت کښې د بدلون هڅه د باچا خان په تحريک پورې غُوټه ده. دې تحريک په عوامي شعور دا حقيقت واضحه کړو چې د پښتنو موجوده ډانچه په نوې جهانبينۍ کښې د ټولنيزې ارتقاء د پېچلو مسائلو د هواري توان نۀ لري. د ټولنيزې اصلاح عمل په رښتينې معنٰي د پښتنو د کلتوري اډانې په حقله د تنقيدي جائزې جسارت ؤ. د فکري جمود د ماتونې په پار د مزاحمت مدعا وه او د متشدد ذهني چاپېريال د توازن د بېرته بحالۍ دپاره مبارزه وه.

د باچاخان تحريک د خلقو تحريک دے. خلق د ستمونو او استبدادونو په مېچن کښې دل شوي. خلق په وړومبني قدم کښې زمکه، ډوډۍ او امن غواړي. په سرمايه دارانه سسټمونو کښې د دې درې واړو څيزونو قحط وي. په کوم وخت کښې چې باچا خان د خپل ځپلي او ربړېدلي قام د قبضې او يرغمالي شتمنۍ د بيا لاس ته راوړنې دپاره ګام اخستو، په نړۍ کښې طبقاتي جنګ په منطقي حتمي مرحلو کښې ؤ. د نړۍ نظرياتي وېش په ډېر څرګند ډول راښکاره شوے ؤ. په وړو وړو مقامي واقعاتو کښې هم دا عالمي وېش ښېخي څرګند ؤ. باچا خان په نړېوال تناظر کښې د خپل قامي ژوند ژواک هر اړخيزه او ګڼ اړخيزه مطالعه درلوده. د ټولنيز ژوند د وسيع البنياد نوعيت د څېړلو نه پس هغه په دې نتيجه رسېدلے ؤ، چې د پښتنو په ټولنه کښې عدم توازن کوم عارضي کېفيت نۀ دے، دا تاريخي وجوهات لري. دلته د تشدد د نفسياتو په خورولو کښې د پېړيو حاوي رجحانات او رائج سسټمونه داخل پاتې شوي دي. ځکه نو تر ټولو وړاندې د خود تنقيدۍ او خود احتسابۍ ضرورت درک شو. د ځان نه د جهان په لور سفر پېل شو. په نورو ټکو سوچ آفاقي او عمل مقامي ؤ. هم دا د رښتيني انقلابي مفکورې او مبارزې خاصيت وي.

د انګرېز په نو آباديا تو کښې د انفراديت او نرګسيت عنصر زيات غالب ؤ. دې انفراديت او نرګسيت د قبائلي سوچ نه سرچينه اخسته او ټولنې ئې قامي تشکيل ته نۀ پرېښودلې. په ټولنو کښې ئې د دې دپاره رېډې مېډ قبائلي او مذهبي رحجانات پياوړي ساتل چې قامي او طبقاتي مبارزې ته لار هواره نۀ شي. ټولنې په تشدد ککړې وې خو د تشدد بنيادونه ښېخي سطحي وو. "تقسيم وکړه او حکومت

وکړه" د ژوند په هره څانګه کښې فعاله پالیسي وه. پښتنه ټولنه د هم دې تقسیم په رنځ اخته وه. باچا خان د دې تقسیم په ضد مزاحمت وکړو او وې وئیل "دا دنیا د قامولې دنیا ده، کۀ قام نۀ شوئ نو برباد به شئ". د یو مرکز او ټول پښتون تصور د باچا خان د مبارزې روح ؤ.

د پښتنو د جیو پولټیکل موقعیت تقاضا دا وه چې د نړیوال سیاسي کشمکش په تناظر کښې ئې برخلیک له ناقرارۍ سره پیوند پاتې ؤ. د نړیوالو یرغلونو په ضد مزاحمت فطري ؤ خو دا مزاحمت به هم د شعوري پسِ منظر د کمزورتیا په سبب پردیو په اسانه د ځان په ګټه تمام کړو. "پښتانۀ واک ګټلې شي خو سمبالولې ئې نۀ شي"، دا د حقیقت یو ساده بیان ؤ چې باچا خان د تاریخ د سبق نه اخذ کړے ؤ. زۀ داسې فکر کوم چې عدم تشدد هغه ورومبنۍ مدرسه ده چې د مزاحمتونو دپاره پکښې ذهني فضاء تیارېږي. باچا خان وائي "حقیقت دا دے چې یواځې قانون د ملک اصلاح کولې نۀ شي او نۀ امن قائمولې شي. د خلقو د زړونو بدلولو ضرورت دے، څۀ وخته پورې چې د خلقو زړونه بدل نۀ شي، جرمونه کمېدے نۀ شي. د خلقو زړونه صرف د خدائي خدمتګارۍ تحریک بدلولې شي. څومره چې دا تحریک خور شي هومره به د خلقو په زړونو کښې بدلون راځي او د دې لازمي نتیجه به په ملک کښې امن و امان وي".

"پښتانۀ واک ګټلې شي خو سمبالولې ئې نۀ شي"، دا د حقیقت یو ساده بیان ؤ چې باچا خان د تاریخ د سبق نه اخذ کړے ؤ. زۀ داسې فکر کوم چې عدم تشدد هغه ورومبنۍ مدرسه ده چې د مزاحمتونو دپاره پکښې ذهني فضاء تیارېږي. باچا خان وائي "حقیقت دا دے چې یواځې قانون د ملک اصلاح کولې نۀ شي او نۀ امن قائمولې شي. د خلقو د زړونو بدلولو ضرورت دے، څۀ وخته پورې چې د خلقو زړونه بدل نۀ شي، جرمونه کمېدے نۀ شي. د خلقو زړونه صرف د خدائي خدمتګارۍ تحریک بدلولې شي. څومره چې دا تحریک خور شي هومره به د خلقو په زړونو کښې بدلون راځي او د دې لازمي نتیجه به په ملک کښې امن و امان وي".

د بدلون دپاره د قام د معاشرتي او سیاسي سېټ اپ مطالعه پکار وي او د هغو داخلي رجحاناتو تنقیدي څېړنه پکار وي، کوم چې د بدلون په حواله لازمي عناصر ګڼلې کېږي. وئیل دا غواړم چې په پښتنه ټولنه کښې د پردیو رول له پېړیو فعال پاتې شوے دے. مونږ کۀ دا تر تنقید لاندې نیسو نو په دې حقیقت به هم غور کوو چې په پښتنو کښې خو نو هم یو ګنجائش شته چې هر وخت پردي رول ته لار ورکوي. دا ګنجائش څۀ او څومره دے؟ د باچا خان ټوله مبارزه د دې سوال د بنیاد لټون او ځواب کوي. هغۀ په تکرار وئیل "زۀ یو سماجي سړے یم او اصلاحي جدوجهد کوم". د دې مطلب دا ؤ چې په نړیوال تناظر کښې د سیالۍ او قامي بدلون دپاره دې تر ټولو اول د قام ذهني سطح زرخیزه کړې شي. بل یو دروند خصوصیت دا د باچا خان تحریک ته منسوب کېدے شي چې دا تحریک

د بدلون په عمل کښې د بیرې قائل نۀ ؤ. په سنجیده توګه ئې د خپلې مبارزې مدارج په ډېره حوصله او صبر وهل. باچا خان پوهېدو چې د بدلون دپاره بیړه په ټولنه او تحریک کښې اړے ګړے پېدا کوي. د خپل ټولنیز حساسیت د مطالعې په تناظر کښې د باچا خان تحریک ځان ته د اعتدال، رواداري او میانه روۍ ټینګ بنیادونه تراشلي وو او د دښمن له خوا د مسلسل جارحانه رویو باوجود دا تحریک کله هم د انتها پسندۍ ښکار نۀ شو بلکې خپلې مقدسې وظیفې ته ئې په پوره استقامت دوام ورکړو. خارجي او داخلي دښمنانو هر وخت د پښتنو حساسیت او جذباتیت په خپله ګټه او د پښتنو په تاوان بدل کړے دے. سنجیده مسائل ئې د غېرت او مېړاني په خول کښې په داسې انداز ورته پېچلي دي چې پښتون د جنګ د حالت نه د وتو لار ونۀ مومي. د باچا خان تحریک د دې حربې ځواب داسې ووې چې د نوې نړۍ په سیاق و سباق کښې زمونږ غېرت او مېړانه دا ده چې د جنګ د محاذونو او مورچلونو د پراخولو په ځائې علمي مرکزونه او مکتبونه پراخ کړو. د مبارزې پېل د ازادو مکتبونو نه کول د باچا خان د تحریک هدف بېخي روښانه ساتي او د شلمې پېړۍ د ټولو مترقي سیاسي خوځښتونو په زنځیر کښې د پښتنو د قامي مبارزې کړۍ په دې ثبوت ورزیاتوي چې مونږ په رڼا مئین خلق یُو، د شب پرستو په ضد جنګېدونکي خلق یُو، په خپله رڼا کښې تګ کول غواړو او په خپل اسمان کښې د خپل واک نمر غواړو. هم دا سوچ د پېرنګي په ضد د مبارزې محرک ګرځېدلے ؤ.

د باچا خان تحریک په رښتیني معنٰي په سیکولر بنسټونو ولاړ ؤ. په هم دې سبب د هند د وېش په عقیدوي خرمستیو کښې یواځې پښتونخوا د انساني تقدس او عظمت محافظه وه او هم یواځې دا تحریک ؤ چې د هند د وحدت په وعده تر اخره ټینګ ودرېدو خو "وېش د بل په لاس دے کۀ تۀ خاندې او کۀ ژاړې". باچا خان به وئیل "مونږ د هر مظلوم خدمتګار او مددګار یُو، خواه کۀ هغه مسلمان وي، هندو وي، سیک وي یا عیسائي وي". د دې سوچ سرچینه د هغه عالمګیر سوچ سره پېوندده چې د ټولې نړۍ مظلومان یو دي. باچا خان د مظلومې طبقې رهبر ؤ، هغه د کلیوالو او خواري کښو انسانانو د زړونو واکمن ؤ. په ښارونو کښې پېرنګیانو او د هغوي نمک حلالو ګړندي فعالیتونه تر سره کړي وو، ښارونه د مصنوعیت او لالچ په قبضه کښې وو. د باچا خان تحریک په اول ځل په رښتیني معنٰي په کلیوالو سیمو کښې وغوړېدو، ځکه چې د دې سیمو خواري کښو په وړومبي ځل د خپلو دردونو دپاره مسیحانه اواز واورېد. باچا خان وئیل "زۀ په ښارونو کښې تنګېږم، زما ښار خوښ نۀ دے، زۀ په کلیو کښې ډېر خوشحاله یم چې خپل قامي عزیز سره کښېنم".
د دې مفکورې مبارز چې کور په کور، کوڅه په کوڅه او کلي په کلي ګرځېدو نو تر خبرو زیات ئې د عملي ژوند ثبوتونه د خلقو په ذهنونو کښې ثبتېدل. دا د تودو تقریرونو سړے نۀ ؤ بلکې د عمل د مېدان شهسوار ؤ. داسې شهسوار چې د نمائش، نمانځنې او نام نمود نه بې نیازه ؤ. دا په دې یقین مخ په وړاندې روان ؤ چې بدلون او انقلاب په خبرو نۀ کېږي، دا منظم جدوجهد غواړي. باچا خان خپله پېل کړي مبارزه د قام دپاره د احسان موجب نۀ بلکې خپله منصبي فریضه ګرځولې وه. دې تحریک

په دې فارموله يقين لرلو چې عمل د لفظ نه زيات زورور دے.

په "زما ژوند او جدوجهد" کښې لولو "پښتون يو ژوندے قام دے د قوميت او قربانۍ ماده هم پکښې شته، خو راويښول غواړي. قامونه خو تش په کُف و چُف نۀ رابېداربږي. د قامونو د ژوندي کولو او بېدارولو دپاره داسې کسان پکار دي چې بې غرضه وي، ديانتدار وي، ايماندار وي او د خدائے دپاره د خپل قام خدمت ته تيار وي چې داسې کسان په کوم قام کښې پيدا شي نو د هغوي په کوششونو په هغه قام کښې مينه، محبت، همدردي، وروروَلي او عزيزولي پېدا شي. هغه قام اباد شي. مونږ بې همتو او خود غرضو خانانو، ملايانو او باباګانو تيارو ته کښېنولي يُو، ځکه خو زمونږ د قام دا حال شو. کۀ چرې دا کارونه په تش کُف او چُف، وظيفو او دعاګانو کېدلے شوے نو زمونږ خپل رسول به دومره کړاوونه ولې کول، دومره قربانۍ به ئې ولې ورکولې او دومره مصيبتونه به ئې ولې تېرول، خو د جومات په گُټ کښې به ناست وے دعا به ئې کوله، د هغۀ په شان دعا د چا کېدې شوه؟ کار به کېدۀ، قام به ابادېدۀ، خو خبره دا ده چې بې عمله دعا د خدائے په نزد نۀ قبلېږي. په دې کښې د پښتنو څۀ ګناه ده؟ دوي ته چې هر چا جونګه جاړه اچولې ده، دوي ورته راټول شوي دي، شکرانې ئې ورکړې دي، د هغوي په مخ کښې ئې منډې وهلې دي، خدمتونه ئې ورته کړي دي، تر دې چې خوبندې لوڼه ئې هم ورکړې دي، خو هغوي دا بدبختان په هغه دين هم نۀ دي پوه کړي. هغوي دا ګمان کوۀ چې دوي زمونږ د دين او دنيا نجات دهنده دي، خو د دوي سره نۀ د دين غم ؤ او نۀ د قام، هغوي سره خپل غم ؤ، هر څۀ ئې خپل ځان ته کړي دي. قام، وطن او دين ته ئې هيڅ نۀ دي کړي".

سترګور باچا خان چې کلونه وړاندې د کوم حقيقت نشاندهي کړې وه، تر ننه پورې پښتنه ټولنه هم له هغه برخليک سره لاس و ګرېوان ده. مېرمنې اوس هم د دوي د "مقدس هدف" دپاره مړونه پرېږدي، زېورات خرڅوي او خپل هر څۀ قربانوي، په نتيجه کښې ئې کورونه په مقتلونو وربدل کړي او د کليو ښاريو نه پلنې هديرې جوړې کړي. د مقدس نظام په دعوٰي داسې بربريت چې ځنګلونه ترې شرمېږي. په داسې وخت کښې چې په دنيا کښې د باچا خان rediscovery روانه ده، د لروبر افغان په دوزخي حالاتو کښې د باچا خان د فکر ضرورت په څو چنده زيات دے. پښتانۀ د تاريخ په دې مهم پړاؤ د سر د بقاء جنګ کوي، د دې جنګ ګټه د باچا خان په فکر او تحريک پورې تړلې ده. پرته له دې د بلې لارې او چارې سنجوونکي د احمقانو د جنت اوسېدونکي دي. د باچا خان تحريک په مېدان ولاړ دے. په سختو حالاتو کښې يو ځل بيا ثابتوي چې مونږ او قام سره ګنډلي يُو. دا حقيقت هغه وخت نور هم په ښه توګه ځرګند شي چې کله هغه د سړو حالاتو ګرم اواز نن په ګرمو حالاتو کښې سوړ وليدل شي. ثابته شي چې پښتانۀ د باچا خان له تحريک نه پرته د بل متبادل تصور هم نۀ شي کولے. په يويشتمه پېړۍ کښې باچا خان نړېوال حېثيت خپل کړے دے. د هيومينيزم په چوکاټ کښې باچا خان نن په نړېواله کچه هغه موضوع ده چې په يوه نوې ښه څېړل کېږي. د افغان په psyche

د پوهېدلو او د هغوي ټولنيز ژوند ته د يوې بلې زاويې او ضلعې نه د کتلو دپاره د باچا خان د تحريک مطالعه زښته ضروري ده. نړيواله ټولنه چې د دې خطې په حواله د مستقبل کومه پېش بيني او منصوبه بندي کول غواړي. د دې دپاره د باچا خان د تحريک مطالعه اساسي کردار لري. په ننني حالاتو کښې يواځې هم دا تحريک دے چې پښتنانۀ په خپل رښتيني سيکولر شکل کښې معرفي کوي. دا چې د پښتنو ټولنيز ذهنيت د ترهګرۍ، انتها پسندۍ او طالبانائزېشن جذبولو ته تيار نۀ دے. دا رجحانات د دې ټولنې پېداوار نۀ دے بلکې په تاريخي تناظر کښې خپل عالمي وجوهات لري او بايد په عالمي کچه ئې څېړنه وشي. دا رجحانات يو قام ته منسوب کول له تاريخي حقائقو رُوګرداني او د پنجاب د جماعتي مېډيا او واکمنانو خور کړے ګمراه کُن تاثر دے. په تاريخ کښې د خدائي خدمتګار تحريک حواله د پښتنو په حقله ټولو مغالطو او غلطيو ته معقول او جامع ځواب وائي. جماعتي مېډيا او جذباتي انټيلېجنسيا چې مسلسل د پښتنو په حقله د مچ د وزر نه غرونه جوړوي، د خدائي خدمتګار تحريک د څېړنې او شننې ضرورت ولې نۀ محسوسوي؟ دا سوال هم داسې لاځوابه ښۀ دے، ځکه چې دا راسره د پاکستان د رياستي تهيوکرېټک سېټ اپ په پېژندنه کښې پراخه مرسته کوي. په هم دې سبب نن نړيواله ټولنه د ترهګرۍ او طالبانائزېشن په بنياد د ځان د پوهولو په لار د جهادي تنظيمونو مسکن (پنجاب) تر نظر لاندې نيسي.

د باچا خان فکر مونږ د جُهد مسلسل په لاره ګړندي ساتي او په دې جذبه راپکښې حرکت او حرارت پېدا کوي چې:

تر منزله پورې شرط د رسېدو دے

په هيڅ ډول زنګينو او سنګينو حالاتو کښې هم بايد هدف مبهم پاتې نۀ شي. سياست د معروض مجبوريو ته د ځواب وئيلو نوم دے، د دې مجبوريو په بهانه ځان ژغورنه د سياست باب نۀ شي کېدے. سياست بايد معروض ورغوي او بايد ټولنيزو مجبوريو ته د هواري لارې چارې ولټوي. تحريک ته د طاقتورو دماغونو ضرورت دے، په نوې نړۍ کښې دا حقيقت حتمي دے چې نجات په علم کښې دے. تحريک او کتاب به سره ګنډل غواړي، په سائنسي او اکاډميکو بنيادونو استوار جدوجهد مو په اغزنو او کړکېچنو لارو د تګ ضامن ګرځېدلے شي. په نوې نړۍ کښې د زمان و مکان د لوازماتو له مخې د پښتنو قامي سوال په عالمي منظرنامه کښې پېوندول غواړي، مونږ ځپلو، رېږېدلو او نېستمنو ته به د خپلې طبقې روح رابېدارول وي ځکه چې کله جنګ په عالمي تناظر کښې روان وي، هلته کښې امن هم په عالمي تناظر کښې تامين کېدے شي. د عالمي امن، د استحصال، جبر او غلامۍ نه د پاک امن په تامين کښې د باچا خان مقام چرته ټاکل کېدے شي؟ دا سوال ته به راتلونکي حالات ځواب وائي. خو د لر و بر افغان په حواله په ډېر اعتماد وئيل کېدے شي، چې د باچا خان تحريک د سر د بقاء د مبارزې په لار يواځينۍ اسره او سهاره ده او دا حقيقت د سطحي معروضي سوچ د ادارک نه ډېر اوچت دے.

khanzamankakar.kakar@gmail.com